**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۲/۱۳

# هغه څنګه او دا څنګه؟؟

مور خو حقداره ده بیشکه، خو دا پلار څنګه؟
پسرلی ښکلی دی خو ژمی کی، روزګارڅنګه؟

په پسرلی کی خو ګلونه وی، رنګونه ډیر وی
خو ساړه ژمي کی توده، غیږه د یار څنګه؟

هلته نری هوا چلیږی، چمن ښکلی ښکاری
دلته کړنګ ژمی کی د یار، سینه ګلزار څنګه؟

هلته خو ډلي ډلي ځي، یاران میلو ته سره
دلته توده خونه کی یار ته، انتظار څنګه؟

هلته شپونکی که په رمې، پسی شپیلۍ غږوی
دلته د شپې په انګازو کی، یکه زار څنګه؟

د غرو لمنو کی که کیږی، آتنونه هلته
دلته نغمې ګرمې حُجرو کی، د سِتار څنګه؟

هلته که خوند داوړدو ورځو،مازیګرکی وی نو
دلته د ډیرو اوږدو شپو، سوځه سهار څنګه؟

ډیر وایی دا چی ژمی، کم د پسرلې نه، نه دی
هلته نشې د یار تر څنګ، دلته خُمار څنکه؟

دا د «مړې ګیډې پاړسی ده»، کلیوال وایی ډیر
چی زړه یی ګرم وی دا وایی، هاغه خوار څنګه؟

چی په تن پټ په ګیډه موړوی، ژمی هم ښکلی وی
خو په تن لوڅ، په زړه رنځور، وږي نهار څنګه؟

چی رنځور نه وی ورته یو دی، پسرلی او ژمی
خو چی توان د درمل نه لری، بیمار څنګه؟

دسمبر/۲۰۱۸/۱۱
تورنتو ــ کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ